Afghanistan Digital Library

adl0633

http://hdl.handle.net/2333.1/fj6q58b0



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

نظامنامه

د

نکاح او سنتي

په (۱۱) د شوری په سنه ۱۳۰۶ هجری شمسی

په مطبع کښې د "شرکت رفیق" په ماشینخانه
د کابل کښې چاپ شوی

(قیمت [illegible])

شماره د چاپ .... (۲۰۰۰)

http://hdl.handle.net/2333.1/fj6q58b0 Image 3 of 16

بسم الله الرحمن الرحیم

نظامنامه د نکاح، واده، او سنتې

له دې جهته چه ډیرې دعوې او جګړې په سبب
د کښ مکښ د خرڅو د واده او نکاح - او په سبب
د ظلم او تعدي د میړو په حق کښې د عاجزه ارتنو
په محکمو د شریعت کښې ډیرې پېښېدلې -
لپاره د دور کیدو د ظلم، او لرې کول د منازعو او
جګړو، او قایمېدو د مساوات و برابرۍ د ښځو
په حقو کښې - په دې قاعده باندې چه سم او
مطابق د شرع شریفې، او موافق د مذهب حنفي دی حکم کوم

http://hdl.handle.net/2333.1/fj6q58b0 Image 4 of 16

قاعده (۱): له دی جهته چه عام حکم د خدای تعالی جل جلاله به موجب د دی آیهٔ کریمه داسی شان دی:-

قوله تعالی - فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً ۚ

پس په نکاح واخلی تاسو هغه ښځی چه حلالی دی تاسو ته دوه، دوه دری، دری څلور، څلور، که چیری د ویریږئ تاسو له دی چه عدل برونکړی په منځ برابری د ښځو کښی، پس په نکاح واخلئ یوه ښځه

لپاره د دی خبری په دی صورت کښی، چه هر مسلمان مخالفت له امره د خدای تعالی نه و کړی

د سبب د زیان د دواړو جهانو به نی وی - بنا په دا بانده په قرار د امر د حق تعالی جل وعلی شانه

سره حکم حکومه چه ای صاد قانو عرفیه

ښما اسره تر پاس حکمه سره مقید او پابند

وُسی، که چیری تاسو عدالت او برابری کولای شئ
نو دُوه یا دری یا څلور ښځی په نکاح سره واخلئ
او که عدالت نه شی کولای - نو یوه ښځه تاسو لره بس
دی - ځکه چه د دوه ښځو ساتنه بی له عدالته
ډیره ګناه لری .

(۲) :- هغه څوك چه دوه یا دری یا څلور ښځی لری ، یا
نوی نکاح وکړی - او سم له شرع شریفی سره
عدل او برابری ونکړی - او محکمی ته خبر ورسیږی
پس له ثبوته څخه تعزیراً حکم د جزاپری کیږی -
بو سیره پر نشت والی د عدل او برابری چه
پلمی وښودل شه - هغه څوك چه په جبر او
زور سره داسی شان عرض کوونکی ښځی ، له
قللو څخه عدلیه محکموته منع کړی ، یا اختیار ورله
ید عرض کوونکو ښځو په جبر او زور سره ئی عرض ته
نه پریږدی ، تعزیراً حکم د جزاپری کاوه شی .

(۳):- په حالت د وړه کېنې کښې، پخوا د بلوغه، او رسیدلو څخه نکاح روا ده- لکن ای صادقانو رعیته شما! نکاح د وړه کېنې په منځ د تاسو کښې سبب د دعوو، او منازعو، او جګړو، او وژلو او د نفاق کېږي- لکه چه تجربه سره، ستاسو دې معنوي پلار ته معلومه شوي دي- نظرو دی دلیل ته، پخوا له دی نه نکاح د وړې کېنې موقوفه شوي ده، مقصود او مراد ئما، اتفاق او آرامي د ستاسو صادقانو رعیت دی.

(٤):- په مابین د ټولو خلقو کښې رواج دی چه اوّل شیریني خوړې کوي، او دیته، نامزدي او کوژدن وائي- او پس له څه مدّت څخه، یو شپیږلی په شپه د حنا، او واده سره معیّنه کړي ده- چه په صباح د هغې شپې به ئې په تولیدلو د ډېرو خلقو سره نکاح تړاه او د عاملي د وصلت به ئې تمام نه

http://hdl.handle.net/2333.1/fj6q58b0 Image 7 of 16

رسولی - په دی صورت کښی، یو، د دواړه طرفه
سختی پیښیدله، دویم بیځایه ښځه نه کیدله،
دریم، دعوی ته رسیده - له جهتره دی، دواج
د شیرینی چه ورقه کوږده ویلای شی بالکل
منع کړی دی - هر څوك چه خیال د نږدی
والی لری اول د دواړه طرف خپلو په رضا
د ناوینه او ښځو په منځ د خپلو کښی خبری وکړی
او کار د وصلت د تمام کړی - په دغه شیانی
د داسی نکاح کښی بی له نږدی خپلوانو او څوکسه
نور لکه ملا چه نکاح تړی او شاهدان، نور د دنیا
خلق د جمعه نشی، او هغه دیره شیرینی چه نخوا
جاری وو کامل منع دی - او پس له دی نه
چه معاملی د نکاح لکه چه وښودل شه،
خلاصه شوله، نوکه ښځه بالغه وه، د
واده سر رشته د وشی پس له آخستل د مهیرته

د ستی دِ میراثه ورکړه شی - او
که انجلی نابالغه وی اجازه ورلره شته چه
په کورکښ د ولی وخپلوان یا د وصی خپل کښ
وی - هرکله چه رضا د دواړو خوا وشوه
تیاری دِ واده دی په ښه والی او خوشحالی سره
وکړی چه په نژدی والی کښ محبت او غیرت
او په اولاد کښ برکت پیدا شی - .

(۵) - هغه کړده او خولښی چه په وقت کښ د ورکوټوالی
نخواتردی پښی شوی وی د اول د شتمله نه
په شرعی محکمو کښ خلاص او فیصله شی - پس
له بتیریده د هغه وقت معلوم شوی نه،
دا رنګه دعوی که څوک سند او ثبوت
درست وقطعی په لاس کښ لری خاص به
حضورته د پادشاه تقدیم کیږی - یا به
د پادشاه له طرفه یوی محکمی ته اختیار د اوریدو

http://hdl.handle.net/2333.1/fj6q58b0 Image 9 of 16

داسې دعوې ورکول کیږي.

(۶):- هغه ښځه چه په "بدی" کښې سره ورکول کیږي او یا ښځې په زور په میراث کښې ورله او یا ښځه د بل خیل میراث نیول بالکل منع او موقوف دي!

(۷):- کونډه ښځه او طلاق کړې ښځه د خپلوک د مړه کول ښځې په ویره ول او هاره ول نه منع کړا!

(۸):- رواج د هغه شیونه چه په اختر و یا په برات کښې په کور کښې د ماښتي و د ښځه کره آستول کیږي منع دي.

(۹):- د انجلۍ او هلک نکاح که پلار یا صحیح نیکه وکې درست دي نه ورانیږي، که د پلار و نیکه نه بل څوک وکړي، په وقت د بلوغ کښې اختیار د نه قبلولو د نکاح لري!

(۱۰):- شیرینی د نکاح د نیم چارک نه تر یو چارک پورې نقل یا میوه د دې اضافه د نوي!

http://hdl.handle.net/2333.1/fj6q58b0 Image 10 of 16

(١١):- مهر د ټولو طایفو زیات تر دیرش روپی او شیره بها ولور او قلین او طویانه بالکل موقوف دی .

(١٢):- کالی چه میره ماینه خپلی ته ورکوی د اقسم دی

اوّل:- کالی د دنیا دارو خلقو څلور جوړی کامله رینیین او څلور جوړی کامله پښی او نخی (دوړی قاسینگی)

دوم:- میانه حال خلق:- دری جوړی کامله و رینیین ، دری جوړی کامله پښی ونخی .

دریم:- غریب خلق:- دری جوړی کامله پښی او نخی

څلورم:- هغه کالی چه میره ومایني خپلی ته ورکوی اضافه تردغو نه وی چه وښودل شو که کم تردغو وی په واسطه د غریبي دوی اختیار لری !

(١٣):- کالی د خوم چه دخواه ښځه دخسر خیل ورکول کیده بالکل موقوف دی .

(١٤):- هغه دود چه د کور ښځه د پلار، یاد مور، یا د نورو ،

http://hdl.handle.net/2333.1/fj6q58b0 Image 11 of 16

خپلوانو وفاوی ته په مجلس کښی په قسم د سیالئ دے
او ښان خو د نه ور کول کیده موقوف دی!
که پس له داده ښځه خپلې لور ته ځه ورکوي اختیار لری.
(۱۵) که پس له خلاصیدو ښځه د وده میره یا په خپلوانو
د میره یا خسر خیل د ښځې د پاره د ناوی ګانړه یا
بل اسباب ورکاوه اختیار لری منعه نه دی او په
ورکولو سره هم مجبوره نه دی!
(۱۶):- په شپه د نکریځو کښی که چیری میره په رضا
خپل په قسم د وودی د نکاح میلمستیا جوړه کی
منع نه دی، لکن شیرینی او میوه اضافه تر
اندازه د خوراک د نه وی، او میلمانه د دغه
شیان، کور خپل ته نه وړی؛
(۱۷):- لیاره د ملاچه نکاح تړی له ښځه تر شلو روپیو
پوری ورکولی شی اضافه منع دی
(۱۸):- بی له رضا د نرو د ښځی چه بالغان وی که ځوک

http://hdl.handle.net/2333.1/fj6q58b0 Image 12 of 16

په جبر ودکړي - جبر کونکی او نکاح تړونکی ملا (تعزیر) کیږی.

(۱۹):- جعوالی د ښځو یاد نرو لپاره دمیلی د سُنتی دواړه مې منع کړی دی، له دی جهته چه بی ځایه او اضافه خرڅ وه

(۲۰):- فیصله او معلومول د تعزیری جزآء د قاعدۀ ددی نظامنامی په نائب الحکومګیو او اعلی حکومتیو کښ په واسطه د قاضی د ابتدائی او کوتوالی اجرا کیږی

(۲۱):- حکم د هغه نخوانی نظامنامی د نکاح چه ورانډی تر دی چاپ شوی دی - پس له چاپ او تقتیه د دی نظامی منسوخ وی

(۲۲):- په اجرا کولو د دی نظامنامی "وزیر عدلیه" مأمور دی.

نولی قاعدی د دی نظامنامی موافق له احکامه

http://hdl.handle.net/2333.1/fj6q58b0 Image 13 of 16

شرع شریفی او برابر له پاك مذهب د حنفی او جوړ په

په روایاتو قوی مفتیٰ بها سره دی

نقل د دستخطونو د منتخبی علماؤ د لوی جرگی

(مولوی محمد ابراهیم) (مولوی عبدالحی رئیس تمیز) (مولوی عبدالخالق)

(مولوی عبدالله ست) (مولوی محمد رفیق)

په داخلول او اجرا کول د حکومت دی نظامنامې

سره په نظامو د دولت کښی اصرار او اراده کوم

http://hdl.handle.net/2333.1/fj6q58b0 Image 14 of 16